هفته واره رساله

# د مفتي اعظم هند رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فيضان



پېدائښي ولي

بیان یې ودرولو او توبه یې کړه

معلوماتي فتوې

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖن ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْم ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم ط

# فيضان مُفتي اَعظمِ

دُعائے عطّار: يا رَبَّ المُصطفٰے! څوک چې دا رساله " فيضان مفتي اعظم هِند " ولولي يا واوري د هغه د اوليائے کرامو رښتونے محبت نصيب کړې او د هغوئي په نقشِ قدم باندې د تللو توفيق ورعطا کړې او د هغه نه د هميشه هميشه د پاره راضي شي- اٰمِيْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شريف فضيلت

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې ډېر ډېر دُرُود شريف لولئ ځکه چې ستاسو دُرُودِ پاک ما ته پيش کولے شي- (معجم اوسط، 84/1، حديث:241)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د دُرُودِ پاک په باره کښې تحقيق رضا

اعلیٰ حضرت، اِمامِ اهلِسُنَّت اِمام احمد رضا خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَيْہ فرمائي: دا ثابته او واضحه خبره ده چې د حُضُور جانِ رحمت (صَلَّی اللّٰہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) په دربار مبارک کښې دُرُود او سلام او اعمال بيا بيا وړاندې کيږي او د حديثونو په

جمع او ترتیب سره زما د پاره دا ظاهره شوه چې هر دُرُودِ پاک دربار رسالت (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) ته 10 ځله پېش کیږي او نور اعمال 5 ځله پېش کیږي، په دربار نبوت کښې د دُرُود پېش کېدو یو څو طریقې دا دي: ﴿1﴾ تُرْبَتِ اَطهَر (یعنی قبر مبارک) ته یـې یوه فرښته رسوي- ﴿2﴾ هٔغه فرښته یـې پېش کوي کومه چې په دُرُود لوستونکي باندې ماموره او مُؤَکَّل (یعنې مقرره) ده- ﴿3﴾ سیل او سیاحت کوونکي فرښتے یـې رسوي- ﴿4﴾ حِفاظت کوونکې فرښتے دُرُودِ پاک د ورځې د ټولو اعمالو او د شپې د اعمالو سره سحر پېش کوي- ﴿5﴾ د ټولې هفتې د اعمالو سره دُرُود شریف د جُمعې په ورځ پېش کیږي- ﴿6﴾ (د ټول عمر ټول) دُرُود به د قِیامت په ورځ پېش کیږي- ( څو ځله چې پېش شوي دي هٔغه ځایونه دا دي:) ﴿7﴾ د معراج په شپه اعمال پېش شول- ﴿8﴾ حُضُورِ انور (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) په نَمازِ کُسوف (یعنې د نمر تندر نیولو په نـمونځ) کښې ولیدل- ﴿9﴾ اللّٰه پاک چې کله د حضور (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) د دواړو اوګو ترمینځه دستِ قُدرت کېښودو نو په حُضور (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) باندې هر څیز روښانه (یعنې ظاهر) شو- ﴿10﴾ د قرآنِ کریم د نازلېدو په وخت د ټولو څیزونو عُلُوم او معارف حاصل شول- (انباءُ الحی، ص287)

اللّٰہ اللّٰہ تبحر علمی اَب بھی باقی ہے خدمتِ قلمی
اہلِ سنّت کا ہے جو سرمایہ واہ کیا بات اعلیٰ حضرت کی

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## چې د چا زړهٔ مات نهٔ شي (واقعه)

يو ځل د هندوستان يو ډېر لوئي عالِمِ دِين او د مفتي اِسلام کوم چې د خپل وخت ډېر لوئي اِمام منلے کېدو، ريلوے سټيشن ته د تللو د پاره پهٔ رکشه کښې کېناستو چې پهٔ دې کښې يو پرېشانه ګس پهٔ منډه حاضر شو او عرض يې اوکړو: حضور! پهٔ فلانکي مصيبت کښې راګېر يم، تعويذ را له راکړهٔ- د هغوئي سره موجود ګس خفه شو او هُغه ګس ته يې ووئيل: د ګاډي د راتلو وخت شوے دے او تهٔ اوس د تعويذ اخستو د پاره راغلې! ګاډے به را نه لاړ شي! پهٔ زړهٔ کښې د الله پاک وِېره او د رحم دلیِ سمندر لرونکي هُغه عالِمِ دِين هُغه ګس ته پهٔ بے قلارئ سره وفرمائيل: "لاړ دې شي! پهٔ بل ټرين کښې به لاړ شم- سبا د قيامت پهٔ ورځ که چرې الله پاک پوښتنه اوکړه چې تا زما د فلانکي بنده پهٔ پرېشانئ کښې مدد ولې اونکړو؟ نو زهٔ به څهٔ جواب ورکووم؟" دا يې وفرمائيل او هغوئي د رکشې نه خپل سامان راکوز کړو او د هُغه ګس پهٔ مدد (يعني تعويذ ليکلو) کښې مصروف شو-

**اے د اوليائے کرامو** رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡهِم **عاشقانو!** آيا تاسو ته معلومه ده چې هُغه عالِمِ دِين او د مفتي اِسلام څوک وو؟ هُغه بزرګه هستي د اِمام اهلسُنَّت، اعلیٰ حضرت اِمام احمد رضا خان رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه شهزاده حضور مفتي اعظم هند حضرت علامه مولانا مصطفٰے رضا خان نوري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه وو، هغوئي د خپل والدِ محترم پهٔ شان پهٔ عِلم، تقویٰ او د خلقو پهٔ خِدمت کښې بے مثاله وو-

د مخلوق خدا د خِدمت د هغوئي يوه بله واقعه ولولئ! مفتي اعظم هند رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ 3 اپريل کال 1974ء د شروع پۀ ورځ پۀ " ذاکر نګر جمشيد پور " کښې د چا کره قيام کولو، د شپې د جلسې پۀ وجه پرې ډېر ناوخته شو، د سحر نه مخکښې ورته ډېر لږ شان وخت د ارام کولو د پاره مېلاؤ شو، ځکه يې د سحر د نـمونځ د اورادو او وظيفو نه د فارغېدو نه پس د ستړګو تورولو اِراده وفرمائيله، پۀ دغه وخت کښې چې کوم خلق موجود وو هغه يو صاحب لرې کول شروع کړل- حضور مفتي اعظم هند رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هغوئي ته وفرمائيل: د دې خلقو نه پوښتنه اوکړئ، کېدے شي چې د دوئي څۀ حاجت وي، ګويا هغوئي دا نۀ خوښول چې هغوئي لرې کړے شي او د مفتي اعظم هند رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هميشه دا معمول وو چې د ټولو خلقو د ضرورتونو د پوره کولو نه پس به يې ارام فرمائيلو، آؤ که ځېنې به خلقو خيال وساتلو او پاڅېدل به نو بېله خبره ده- مفتي اعظم هند رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به " **لرې شئ! حضرت ارام ته پرېږدئ، تاسو لاړ شئ چې حضرت اودۀ شي، تاسو يې ارام ته پرېږدئ**" پۀ داسې قِسمه جملو باندې خفه کېدو چې هسې نۀ د چا زړۀ مات نۀ شي يا د چا څۀ اهم ضرورت د پوره کېدو نه پاتې شي- (جهانِ مفتيِ اعظم، ص 903)

د الله رَبُّ العزّت دې پۀ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پۀ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي- اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ

## د مسلمان ورور د مدد کولو فضيلت

د اللّٰه پاک اخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے " چا چې د يو مسلمان دُنيائي تکليف لرې کړو نو د قيامت په ورځ به اللّٰه پاک د هغه د اخرت تکليف لرې کړي- اللّٰه پاک د هٔغه وخته پورې د بنده مدد کوي، د څو پورې چې بنده د خپل ورور مدد کوي- (مسلم شريف، ص1110، حديث: 6853 ملتقطاً)

مفتیِ اعظم سے ہم کو پیار ہے　اِن شاءَ اللّٰہ اپنا بیڑا پار ہے

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## پيدائشي وَلي

کله چې د اِمامِ اهلِسُنَّت، اعلیٰ حضرت اِمام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه کره د هغوئي کشر شهزاده مفتي اعظم هند مصطفٰے رضا خان (رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه) په 22 ذِي الـحِج شريف کال 1310 هجری مطابق 7 جولائي کال 1893ء، د جُمعي په ورځ د صبح صادق په وخت بريلي شريف (اُتر پردېش، هندوستان) کښې تشريف راوړو نو اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هٔغه وخت د مرشد په دربار مارهره شريف کښې حاضر وو- حضرت سَيِّد شاه ابو الحسين احمد نوري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د سحر د نـمونځ نه پس په مُصله باندې کېناستو او اعلیٰ حضرت اِمامِ احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته يـې د هغوئي د اوس پيدا شوي شهزاده د مستقبل د مفتي اعظم د پاره خپله جبه او عمامه ورکړه او اِرشاد يـې وفرمائيلو: " زما دا

امانت تاسو ته حواله دے کله چې هٔغه ماشوم د دې لائق شي نو هغه له يې ورکړه-“ بيا حضرت ابو الحسين نُوري رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ هغوئي ته د څوي د پېدا کېدو اُمبارکي ورکړه او وه يې فرمائيل: تاسو بريلي ته تشريف يوسئ- (مفتیِ اعظم ہند اور ان کے خلفاء، ص20، 21، 22، 23)

د مفتي اعظم هند رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ دُنيا ته د تشريف راوړلو نه مخکښې اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ دا دُعا اوکړه: ”اے بے نياز مالکه، اے رَبِّ کريمه! **ما ته داسې اولاد راعطا کړې کوم چې د ډېرې مودې پورې ستا د دِين او ستا د بندګانو خِدمت اوکړي-“** الله پاک د مفتي اعظم رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ په شکل کښې د هغوئي دُعا قبوله کړه- (مفتیِ اعظم ہند اور ان کے خلفاء، ص19)

شپږ مياشتې پس حضرت ابو الحسين نُوري رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ بريلي ته تشريف راوړلو نو د اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ شهزاده يې په خپله غېږه کښې واخستو- حضرت ابو الحسين نُوري رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ خپلې لاړې مبارکې د شهادت په ګوته د نوي زېږېدلي [ماشوم] په خُله کښې واچولې او د ډېر وخته پورې يې ورته دعاګانې کولې- په 25 جمادي الاخره کال 1310 هجرئ د شپږو مياشتو درېو ورځو په عمر کښې حضرت شاه ابو الحسين نُوري رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ په سلسله کښې داخِل کړو او (په دې وړوکي عمر مبارک کښې يې د خپلو) ټولو سلسلو اِجازت او خلافت ورعطا کړو او اِرشاد يې وفرمائيلو:

**” دا ماشوم چې لوئي شي نو د دِين او مِلت به ډېر خدمت کوي او د الله پاک**

**مخلوق ته به د دهٔ د ذات نه ډېر فيض رسي- دا ماشوم ولي دے، دا د فيض درياب دے، د دهٔ پهٔ نظر به پهٔ لکونو ګمراه اِنسانان پهٔ حق دِين باندې قائمېږي-"** (مفتیِ اعظم ہند اور ان کے خلفاء، ص 25۔ تاریخ مشائخ قادریه، 2/447 ملخصًا۔ جهانِ مفتیِ اعظم، ص 183 ملخصاً)

د حضرت مفتي اعظم هند رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه پيدائشي او اصلي نوم "**محمد**" دے، والدِ محترم اعلىٰ حضرت رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د رابللو د پاره "**مصطفٰے رضا**" کېښودو، دا نوم دومره مشهور شو چې اوس مفتي اعظم هند رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه هم پهٔ دې نوم سره پېژندلے کيږي- (جهانِ مفتیِ اعظم، ص 102 بتغیر قلیل)

د مفتي اعظم هند رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه تخلص "**نُوري**" دے- (د شاعر مختصر نوم کوم چې هغه پهٔ خپلو شعرونو کښې د اصلي نوم پهٔ ځائے اِستعمالوي هغې ته تخلص وئيلے شي-)

مفتیِ اعظم رضا کا لاڈلا  اور محب سیِّدِ ابرار ہے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!  صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## مفتي اعظم هند رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه او والدِ محترم

اِمامِ اهلِسُنَّت اعلىٰ حضرت اِمام احمد رضا خان رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه خپل کشر شهزاده حضور مفتي اعظم هند رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه ډېر پهٔ نازونو لوئي کړو- کله چې هغوئي دُنيا ته تشريف راوړو نو هغه وخت د اعلىٰ حضرت رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه عمر

مبارک 38 کاله وو- حضور مفتي اعظم هند رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡه کم او زیاد د 30 کالو پوري د خپل والدِ محترم نه فیض حاصل کړو-

زما خوږ دادا مرشد، سیدي قطبِ مدینه ضیاءُ الدِّین مدني رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡه فرمائي: کله چې به اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡه په دار الافتا کښې وو نو کله کله به د هغوئي کشر شهزاده (مفتي اعظم هند رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡه) د هغوئي په خدمت کښې حاضرېدو، په دربار رضا کښې به د شهزاده رضا د حاضرۍ انداز دومره ښکلے وو چې زړهٔ به پرې قربانېدل غوښتل چا چې به هم لیدلو نو وئیل به یې بے شکه دا مادر زاد (یعنې پیدائشي) کامِل ولي دے، د دهٔ نه علاوه د بل چا نه د داسې انداز طمع نشي کیدے، هُغه وخت د هغوئي عمر څلورو کالو ته نزدې وو، هغوئي به په قلاره قلاره راتللو او په دربار رضا کښې به په دواړو زنګونانو په ادب سره کېناستو یعنې د شرارتي ماشومانو په شان به یې نهٔ هنګامه کوله او نهٔ به یې سامان راخِستو او وېشتو- اِمامِ اهلِسُنَّت رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡه ته چې کله د کشر شهزاده په زېږېدو شاګردانو او محبت کوونکو اُمبارکۍ ورکړې نو اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡه وفرمائیل: **"اللّٰه پاک دې ستاسو خُلې بختورې کړي زهٔ خو د دِین ادنیٰ خادم یم او زما د زړهٔ نه ارمان دے چې زما ځوي هم د دِین خِدمت د زړهٔ نه خپله طریقه جوړه کړي-"** (جهانِ مفتيِ اعظم، ص64)

## د مفتي اعظم هند رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡه ماشومتوب شریف

د مفتي اعظم هند رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡه عمر مبارک چې کله څلور کاله څلور میاشتې او څلور ورځې شو نو بخپله اِمامِ اهلسُنَّت اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡه د

هغوي رسم بِسمِ الله پوره وکړو او خپل مشر شهزاده حجةُ الاسلام مولانا حامد رضا خان رَحمَةُاللهِ عَلَيه يـې د هغوئي د تعليم او نګرانۍ د پاره په خاص توګه مقرر کړو- کله چې د هغوئي رسم بِسمِ الله ادا شو نو هغوئي هغه وخت د نـمونځ او د اوداسه مسئلې زده کړې وې- مفتي اعظم هند رَحمَةُاللهِ عَلَيه په درېو کالو کښې د قرآنِ کريم ناظره مکمل کړه- هغوئي مکمل تعليم په دار العلوم منظر الاسلام (د سيدي اعلیٰ حضرت رَحمَةُاللهِ عَلَيه په بريلي شريف کښې په جوړه کړے شوې مدرسه) کښې حاصل کړو- مفتي اعظم هند رَحمَةُاللهِ عَلَيه د اورادو او وظيفو او د قرآنِ کريم د تلاوت د ماشومتوب نه پابند وو، چرې ورته د چا د نـمونځ د پاره د وئيلو ضرورت پيښ نۀ شو- (جهانِ مفتيِ اعظم، ص65 ملتقطاً)

## وړومبۍ فتویٰ

مفتي اعظم هند رَحمَةُاللهِ عَلَيه د 18 کالو په عمر کښې (باقاعده د دِيني تعليم نه) فارغ شو- هغوئي رَحمَةُاللهِ عَلَيه هم د خپل والدِ محترم په شان وړومبۍ فتویٰ د "**رضاعت** (د ماشومانو د پئيو خښلو) **په مسئله**" باندې وليکله- اعلیٰ حضرت رَحمَةُاللهِ عَلَيه په صحيح جواب ډېر زيات خوشحاله شو- د اعلیٰ حضرت رَحمَةُاللهِ عَلَيه په وړومبۍ فتویٰ باندې چې کومه خوشحالي د هغوئي والدِ محترم حضرت علامه مولانا نقي علي خان رَحمَةُاللهِ عَلَيه کړې وه هم هغسې خوشحالي اعلیٰ حضرت رَحمَةُاللهِ عَلَيه د خپل شهزاده حضور مفتي اعظم هند رَحمَةُاللهِ عَلَيه په فتویٰ ليکلو باندې اوکړه او هغوئي پخپله " مُهر " (Stamp) جوړ کړو او ورعطا يـې کړو- (جهانِ مفتيِ اعظم، ص65 ملتقطاً)

د بُخاري شریف شارح مفتي شریف الحق امجدي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د وړومبۍ فتوې خوندوره واقعه څۀ داسې بیانوي چې د اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د فتاویٰ رضویه شریف پۀ لاسو لیکلے یو جلد به پۀ بیټهک کښې اېښودے شوے وو- اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه به څۀ مسئلې هلته حاضري کوونکو علماؤ ته د لیکلو د پاره عطا کولې او هُغه حضراتو به پۀ متعلقه حُکم کتو جوابونه لیکل- یوه ورځ حضور مفتي اعظم هند رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه بیټهک ته تشریف یوړلو- هلته یې وکتل چې یو صاحب فتاویٰ رضویه ګوري او لاندې یو کاغذ پروت دے- مفتي اعظم هند رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه چې پوښتنه اوکړه نو هغه عرض اوکړو: یوه مسئله لیکل دي، مفتي اعظم هند رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه (د هغوئي سره چې کومه ازادي وه د هغې پۀ نظر کښې د ساتلو سره یې) هغوئي ته وفرمائیل چې دا څۀ کمال دے چې پۀ فتاویٰ رضویه کښې مو وکتو او حکم مو ولیکلو ځپله د فقهې پۀ کتابونو کښې د دې حکم وګورئ او ولیکئ- هغوئي هم پۀ دې انداز کښې جواب ورکړو چې " **نو واخلئ هم تاسو یې ولیکئ** " مفتي اعظم هند رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه سوال راواخستو، دا د رضاعت څۀ پیچیده (یعنې ګرانه) مسئله وه (ځپله حضرت مسئله ما ته بیان کړې وه خو دا وخت راته یاده نۀ ده) حضرت مفتي اعظم هند رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه چې هلته کوم کتابونه وو هغه یې وکتل او د هغې حُکم یې ولیکلو پۀ تائید کښې یې عبارتونه ولیکل او هُغه لیکل یې د اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه دربار ته ولیږل اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه خط وپیژندو، پوښتنه یې اوکړه: چا درکړے دے؟ وړونکي ووئیل: چهوٹے میاں (پۀ کور کښې به

مفتي اعظم هند رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته چهوټے میاں وئیلے کېدلو) اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هغوئي راوغوښتلو: مفتي اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه حاضر شو او وه یـې لیدل چې د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مخ مبارک د خوشحالۍ نه پړقیږي- وه یـې فرمائیل: پۀ دې باندې دستخط اوکړه- د دستخط کولو نه پس اعلیٰ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه " **الجوابُ صحیح**" یا د دې پۀ شان بله څۀ جمله ولیکله او خپل دستخط یـې اوکړو او 5 روپۍ اِنعام یـې ورعطا کړو او وه یـې فرمائیل: ستا د پاره "**مُهر**" جوړووم- اوس فتوې لیکه، اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ خپل لاس مبارک باندې د "مُهر " خاکه تیاره کړه، کُنیت او لقب یـې ولیکلو او مُهر جوړوونکي ته یـې حواله کړو کله چې مُهر جوړ شو او راوړے شو نو هغوئي یـې راوغوښتل او ورعطا یـې کړو-

خاص خبره دا ده چې اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ دې وړومبۍ فتویٰ کښې نۀ یو لفظ کم او نۀ زیات کړو او نۀ یـې څۀ اِصلاح اوکړه- د مفتي اعظم هند رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وړومبۍ فتویٰ داسې صحیح او مکمله وه چې پۀ هغې کښې چرته د ګوتو وهلو ضرورت نۀ وو- (جهانِ مفتيِ اعظم ، ص252)

## آغاز کا جب یہ عالم ہے تو انجام کا عالم کیا ہوگا!

## [چې شروع یـې داسې ده نو اِنتها به یـې څۀ وي!]

مفتي اعظم هند رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د کال 1328 نه د کال 1340 هجری (د 12 کالو) پورې د خپل والدِ محترم اِمامِ اهلسُنَّت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ نګرانۍ کښې فتوې لیکلې

بيا چې کله اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ د دې دُنيا نه رحلت وفرمائيلو نو په باقاعده توګه يــې فتوې جاري کړې- (جهانِ مفتي اعظم، ص 65 ملتقطاً)

د مفتي اعظم هند رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ د فتوؤ مجموعه په 7 جلدونو کښې د "فتاویٰ مفتی اعظم" په نوم باندې موجوده ده- مفتي اعظم هند رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ ته به د عرب شريف، افريقې، ماريشس، انګليند، امريکې، ملائشيا، بنګله ديش او پاکستان وغيره نه د دِيني مسئلو خطونه راتلل او هغوئي به د هغې جوابونه ورکول-

عالم و مفتی، فقیہِ بے بَدَل خوب خوش اَخلاق و باکردار ہے

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د کاغذ ادب

تاجدار اهلِسُنَّت ، د اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ شهزاده، سيدنا و مولانا الحاج محمد مصطفٰے رضا خان رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ **المَعروف "حُضور مفتي اعظم هند"** به د ساده کاغذونو او د حروف مُفرِده (يعنې د بيلو بيلو ليکلے شوو حرفونو الف مثلاً الف، ب، ت وغيره) هم ډير تعظيم کولو ځکه چې هغه د قرآن او د حديثونو او د شريعت د خبرو په ليکلو کښې په کار راځي- مفتي اعظم هند رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ په کال 1391 هجرى د دار العلوم ربانيه، باندہ (هندوستان) کليزې دستار بندۍ ته تشريف راوړلو نو د سورلۍ نه د کوزيدو نه پس لا يو څو

قدمه هيله تلے وو چې هغوئي د اُردو د تحرير د کاغذ يو څو زړې ټوټې پرتې وليدلې، مفتي اعظم هند رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فوراً هغه د زمکې نه راوچتې کړې او وه يـې فرمائيل: د کاغذونو او د عربى د حروفو (چې د اُردو د يو څو نه هم علاوه ټول حرفونه د عربى دي د هغې) اِحترام کول پکار دي ځکه چې د دې نه قرآنِ عظيم او حديثونه مبارک او تفسيرونه وغيره جوړيږي- (مفتی اعظم کی استقامت و کرامت، ص124 ملخصاً)

د الله رَبُّ العزّت دې پهٔ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پهٔ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي- اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ

کاش چې د مفتي اعظم هند رَحْمَةُاللهِعَلَيْه پهٔ وسيله زمونږ هم د مقدسو کاغذونو ادب نصيب شي- که ليکل پهٔ هره ژبه کښې هم وي پهٔ هغې باندې ښپې مهٔ ږدئ- داسې پائيدان (Doormat) د دروازې نه بهر مهٔ ږدئ پهٔ کوم باندې چې Well Come ليکلے شوے وي- کوم خوش قِسمته مسلمانان چې د ليکلو ادب کوي او اخبارونه او مقدس کاغذونه او ګټې وغيره په زمکه باندې ويني او راوچتوي يـې او هغه د سمندر مينځ يا ژور درياب ته غورځوي هغوئي د رشک قابل دي او د زمکې نه د مقدسو کاغذونو د راوچتوونکو خوش قِسمتو د پاره زيرے دے چې

## د متبرک کاغذ د راوچتولو فضيلت

د مسلمانانو د څلورم خليفه، حضرت مولائے کائنات عليُّ المُرتضیٰ شيرِ

خُدا رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے چې د نبيانو د سلطان صَلَّى اللّٰہُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: څوک چې د زمکې نه داسې کاغذ را اوچت کړي په کوم باندې چې د الله پاک په نومونو کښې يو نوم وي نو الله پاک به د هغه (اوچتوونکي) نوم (د رُوحونو د ټولو نه په اعلیٰ ځائے) علیین (عِلْ- لِی۔ یِیْن ) کښې اوچت کړي او د هغه د مور پلار په عذاب کښې به کمے اوکړي اګر چې د هغه مور پلار غير مسلمه ولې نهٔ وي- (مجمع الزوائد ، 300/4، حديث:6846 مختصراً)

اَلْحَمْدُلِلّٰه الكريم! د عاشقانِ رسول دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي د الله پاک او د هغه د خوږ اخري نبي، مکي مَدَني مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللّٰہُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ، د ټولو صحابهٔ کرامو او اهلِ بيتِ اطهار عليهمُ الرِّضوَان او د اوليائے کرامو رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْهم محبت او د هغوئي ادب او فيضان عام کوونکے تنظيم دے- د دعوتِ اِسلامي د يوې شعبې نوم " شعبه تحفظِ اوراقِ مقدسه " دے د کومې کار چې په کوڅو، محلو، جوماتونو وغيره کښې مختلف قسمه بوکس او ډرم وغيره اېښودل او د مقدسو اوراقو راجمع کول او بيا د مفتيانو صاحبانو د ورکړے شوې راهنمائۍ مطابق په يو ځائے کښې محفوظ کول دي-

## مفتي اعظم هند رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه پيرِ کامِل

حضرت مولانا مفتي غلام محمد خان صاحب (د جامعه امجديه ناګپور شيخُ الحديث) د کال 1953 نه مخکښې د چا مُريد نهٔ وو جوړ شوے، د يوې

سلسلې سره د ترون لرلو د پاره نا قلاره وو- يوه ورځ علامه مفتي عبد الرشيد صاحب د (جامعۀ امجديه ناګپور د باني) نه پوښتنه اوکړه: حضور! د چا مُريد کېدل پکار دي؟ " نو حضرت اِرشاد وفرمائيلو: مولانا! اوس چرته داسې خلق پاتې دي، کوم چې په شريعت او طريقت کښې کامِل وي، د مفتي اعظم هند نه علاوه- (مفتیِ اعظم ہند نمبر، ماہنامہ استقامت، ص558)

## د مفتي اعظم هند رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه خاصيتونه

د حضور مفتي اعظم هند رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه ترۀ مولانا حسن رضا خان رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه پۀ کال 1329 هجرى کښې وفات شو نو د هغوئي مشر ورور مولانا حامد رضا خان رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د مدرسه منظرِ اِسلام مهتمم جوړ شو نو مفتي اعظم هند رَحۡمَةُ اللهِعَلَيۡه به فتوې ليکلې او درس به يې ورکولو- هغوئي چرې هم چا پۀ کړس کړس خندا نۀ وو ليدلي- هر کار يا څيز به يې پۀ ښي لاس اخستو او ورکولو، د حديثونو د کتابونو د پاسه به يې نور کتابونه نۀ کېښودل- د ذکرِ ميلاد پاک يا د نعتونو او منقبت پۀ محفل کښې به د اخره پورې پۀ ادب ناست وو، د بيمارانو تپوس له به يې تشريف وړلو، د علمائے کرامو به يې ډېر زيات اِحترام کولو، د سَيِّدانو صاحبانو به يې پۀ داسي انداز کښې احترام کولو لکه چې يوه رعايا (يعني خلق) د خپل بادشاه اِحترام کوي- د ږيرې د پرېښودو او د اِسلامي جامو د اغوستو تلقين به يې کولو- (جهانِ مفتیِ اعظم، ص65۔ تذکرہ مشائخ قادریہ رضویہ، ص554)

## د مفتي اعظم هند رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د عمامې مبارکې سره محبت

حضرت مفتي اعظم هند رَحْمَةُاللهِعَلَيْه چې يو ځل د دارُ العلوم فيضُ الرسول براؤں شريف د کلېز دستارِ فضيلت په موقع تشريف راوړو نو د " فيضُ الرسول " اُستاذانو د حضرت مفتي اعظم رَحْمَةُاللهِعَلَيْه نه د درسِ حديث او د اجازت اخستو فيصله اوکړه- د حضرت مفتي اعظم هند رَحْمَةُاللهِعَلَيْه په اجازت سره د درسِ حديث يو نوراني محفل وشو- د درسِ حديثِ په دې محفل کښې د برخه اخستونکو د پاره دا لازمي کړے شوې وه چې هغوئي به عمامه شريف په سر کوي او شرکت به کوي، نو د دار العلوم ټولو استاذانو د درسِ حديثِ په دې مجلس کښې عمامه شريف په سر شريک شول- (مفتیِ اعظم اور ان کے خلفاء، 44/1 بتصرفٍ)

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** تاسو د مفتي اعظم هند رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د سُنَّتِ رسول عمامې شريف سره محبت وليدو د هغوئي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د عمامې شريف سره د محبت اندازه د دې خبرې نه هم لګېدے شي چې هغوئي کومو عالمانو او مفتيانو صاحبانو ته خلافت عطا کړو هغوئي ته يې په خپلو لاسونو باندې عمامه شريف وتړله، ډېرو ته يې جبه او پټکے او ټوپۍ هم ورعطا کړې- (تذکرہ مشائخ قادریہ رضویہ، ص 509)

د هغوئي خپل انداز مبارک دا وو چې ډېره پلنه سپينه، بادامي پټکے (شريف) به يې په سر کولو- حضرت علامه مفتي عبدُ المنان اعظمي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي:

مفتي اعظم هند رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به ساده عمامه پۀ سر کوله خو د هغوئي پۀ سر باندې به عمامه دومره ښکلې ښکارېدله چې ليدونکي به وئيل چې دا عمامه هم د دې سر مبارک د پاره شوے ده- (جهانِ مفتی اعظم، ص243 ملخصاً)

## د مفتي اعظم هند رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه عمامه د امیرِ اهلِسُنَّت پۀ سر باندې

شیخِ طريقت، امیرِ اهلِسُنَّت، باني دعوتِ اِسلامي ، حضرت علّامه مولانا محمد الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه اِرشاد فرمائي: د دعوتِ اِسلامي د جوړېدو نه مخکښې د کراچی پۀ کهارادر علاقه کښې د حضرت سَیِّدُنا **محمد شاه دولها بخاري سبزواري** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د مزار شريف والا حېدري جومات کښې د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خليفه، مداحُ الحبيب د حضرت مولانا جميلُ الرحمان قادري رضوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه شهزاده حضرت علامه مولانا حميدُ الرحمان قادري رضوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه امامتي کوله، د هغوئي کور د جومات نه تقريباً شپږ اوۀ کلوميټره لرې وو، د هغوئي سره د حضور مفتي اعظم هند رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه برکتي **عمامه شريفه وه- د سحر نـمونځ د هغوئي د تشريف نۀ راوړو پۀ وجه به زما د** سحر د جَمعې ورکولو سعادت نصيب کېدو او د هغوئي د حُضُور مفتي اعظم هند رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه والا عمامه شريفه به زما نصيب کېدله، د کومې نه به چې ما برکتونه حاصلول- اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د يو کامِل ولي عمامه شريفه به بيا بيا زما د لاسونو او د سر سره لګېدله- اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم! زما لاسونو او سر ته به د دوزخ وور نۀ ورنزدې کيږي او چې کله لاسونو او سر ته نۀ ورنزدې کيږي نو اِنْ شَآءَ

اللّٰهُ الْکَرِیم! تِول وجود به مې محفوظ وي- اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه د مفتي اعظم هند رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه پهٔ دربار کښې عاجزانه عرض کوي-

مفتیِ اعظم بڑی سرکار ہے    جبکہ ادنٰی سا گدا عطارؔ ہے
اِن شاءَ اللہ مغفرت ہو جائیگی    اے وَلی! تیری دعا درکار ہے
(وسائلِ بخشش، ص 589، 590)

## د مفتي اعظم هند رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه وادهٔ

د مفتي اعظم هند رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه وادهٔ د خپل ترهٔ محمد رضا خان صاحب د لور سره وشو او الله پاک هغوئي ته د 7 بچو نعمت ورعطا کړو، پهٔ کومو کښې چې يو ځوي او نورې لوڼه وې- د مفتي اعظم هند رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه ځوي انور رضا (پهٔ کم عمری) کښې وفات شوے وو- (جهانِ مفتيِ اعظم، ص 65 ملتقطاً)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب!    صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## مفتي اعظم هند رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه به د حکمرانانو نه لرې اوسېدو

مفتي اعظم هند علامه مولانا مصطفٰے رضا خان رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه به د وزيرانو او د حکومتي غړو نه همېشه لرې اوسېدو رئيسُ القلم حضرت علامه ارشد القادري رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه ليکلي دي: او دا هم د دِيني غيرت يوه بے مثاله نمونه ده چې (سرکارِ مفتي اعظم هند رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه) پهٔ 92 کاله ډېر ژوند کښې چرې هم د ملک د سربراه کور ته نهٔ دے تلے او نهٔ د کوم لوئي فرمان روا (يعنې حکمران) پهٔ

بنګله کښې پۀ نظر راغلے بلکې د ډېرې حېرانتيا خبره دا ده چې د مملکتونو ډېرو مشرانو او د وخت لوئي سلطانانو پخپله د هغوئي پۀ مجلس کښې د حاضرېدو اجازت وغوښتو او مفتي اعظم (رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ) پۀ دې وئيلو سره د مېلاؤېدو نه اِنکار اوکړو چې د يو درويش د بادشاهانو او د حکومتي واکمنو سره څۀ کار دے؟ (مفتی اعظم کی استقامت و کرامت ص 110) ګويا مفتي اعظم هند رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ د خپل والدِ محترم د دې شعر مصداق وو:

کروں مدحِ اہلِ دُوَل رضاؔ پڑے اِس بلا میں مِری بلا
میں گدا ہوں اپنے کریم کا مِرا دین پارۂ ناں نہیں
(حدائقِ بخشش ، ص109)

شرحِ کلامِ رضا: د اعلیٰ حضرت د کلام د دې مقطې مطلب دے، اے رضاؔ زۀ د نورو دولتمندو، د دُنيا د نوابانو او د حکمرانانو تعريف او خوشامد اوکړم؟ نا نا پۀ دې بلا يعنې د مالدارانو د خوشامد پۀ شان پۀ افت کښې اخته کېدل خو بس زما نه هډو کېدے نشي بس زۀ خو د رسولِ کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دربار ګوهربار سوالګرے يم، زما دِين "د ډوډۍ قطره" نۀ ده (چې چرته مې "مال" وليدو هلته لاړم!)

## د سرو زرو ګوتمه د نارينه د پاره حرامه ده

حضرت علامه ارشدُ القادري رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ ليکلي دي: د اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ د شهزاده، حُضُور مفتي اعظم رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ د پاره به د ټولو نه زيات د

تکليف والا منظر ھٔغه وو کله چې به هغوئي يو مسلمان د اِسلامي شريعت پهٔ خلاف ورزی ليدلو، اَمْرٌ بِالْمَعْرُوْف وَ نَهْیٌ عَنِ الْمُنْكَر (يعنې د نېکۍ پهٔ حُکم ورکولو او د ګناه نه د منع کولو) د ادا کولو پهٔ وخت به هغوئي د کشر مشر، مالداره او غريب او د حاکم او محکوم پهٔ مينځ کښې هيڅ اِمتياز (يعنې فرق) نهٔ کولو- د هغوئي د دربار عام معمول وو چې که د ډېرو نه ډېر مالداره به وو او که د اوچت نه د اوچت منصب والا افسر، د هغوئي پهٔ خِدمت کښې د حاضرېدو پهٔ وخت به د هغه پهٔ ګوته د سرو زرو ګوتمه وه نو فوراً به يې ترې لرې کوله او ډېر پهٔ شفقت او محبت سره به يې هغه ته تلقين فرمائيلو چې پهٔ شريعتِ محمدي کښې د نارينو د پاره د سرو زرو اِستعمال حرام دے- بيا به يې پهٔ ښکلي لهجه کښې اِرشاد فرمائيلو: ”**يوه ګناه د يو ساعت دوه ساعتونو يا د ګينټې او دوو ګينټو وي خو د سرو زرو د ګوتمې د ګناه داسې ګناه ده چې د څو پورې دې اچولې وي مسلسل ګناه ده**-“ (مفتی اعظم کی استقامت و کرامت، ص146) (د ګوتمې پهٔ باره کښې د تفصيلي دِيني مسئلو نه د ځان خبرولو د پاره د امير اهلسُنَّت کتاب 550 سُنَّتې او آداب ولولئ-)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

کاش چې د مفتي اعظم هند رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه پهٔ وسيله مونږ هم د نېکۍ دعوت ورکوونکي او د ګناه نه منع کوونکي جوړ شو، که چرې تاسو چا له د نېکۍ دعوت ورکړئ نو د يو يو لفظ پهٔ بدل کښې به د يو يو کال د عبادت

ثواب مومیٰ لکه څنګه چې سيِّدُنا امام محمد بن محمد بن محمد غزالي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائي: يو ځل حضرت سَيِّدُنا حضرت موسیٰ کليمُ الله عَلَيۡهِ السَّلَام د الله پاک پهٔ دربار کښې عرض اوکړو: يا الله پاکه! څوک چې خپل وررور ته د نېکۍ حُکم اوکړي او د ګناه نه يې منع کړي- د هغې بدله څهٔ ده؟ الله پاک اِرشاد وفرمائيلو: زهٔ د هغه د هرې کلمې پهٔ بدله کښې د يو يو کال د عبادت ثواب ليکم او هغه ته د دوزخ پهٔ سزا ورکولو کښې ما له حيا راځي- (مكاشفة القلوب، ص48)

سُبۡحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د نېکو حِرص لرونکي جوړ شئ، د نورو د نمونځ ګزاره جوړولو مُهم د تېزونو نه تېز کړئ، کله چې هم د جَمعې د نمونځ د پاره د جومات طرف ته ځئ نو نورو له ترغيب ورکوئ او د ځان سره يې بوځئ، چا له چې نمونځ نهٔ ورځي هغوئي ته نمونځ وښايئ- که ستاسو پهٔ وجه يو کس هم نمونځ ګزاره شو نو چې د څو پورې نمونځونه کوي د هغه پهٔ هر يو نمونځ به تاسو ته هم ثواب مېلاؤېږي- د دعوتِ اِسلامي پهٔ مدرسة المدينه (بالغان) کښې داخِله واخلئ، پهٔ دې کښې پخپله هم قرآنِ کريم زده کړئ او نورو ته يې هم وښايئ- ستاسو نه زده کوونکے چې به کله هم تِلاوت کوي نو ستاسو به هم ثواب کيږي- تاسو هم پهٔ سُنَّتو باندې عمل اوکړئ او نورو له هم ترغيب ورکړئ- که چرې تاسو چا ته يو سُنَّت وښودو نو چې هغه پهٔ دې سُنَّت باندې کله عمل کوي نو تاسو ته به هم پهٔ هٰغه سُنَّت باندې د عمل کوونکي پهٔ شان ثواب مېلاؤېږي- د علاقائی دوره

براۓ نیکی کی دعوت او پۀ قافِلو کښې د سُنَّتو نه د ډک سفر پۀ ذریعه د خپل ځان او د نورو د اِصلاح زورور مهم چلوئ او د مسلمانانو د " نیک " جوړولو مشین " جوړ شئ، اِنْ شَآءَاللهُ الْكَرِیم! د ثواب ډېرے به جوړ شي او پۀ دواړو جهانو کښې به مو کامیابي نصیب شي- د نېکۍ د دعوت پۀ اخرت کښې مېلاؤېدونکے ثواب که چرې اِنسان پۀ دُنیا کښې ووینې نو یو ساعت به هم نۀ ضائع کوي، هر وخت به د نېکۍ دعوت ورکوي-

میں نیکی کی دعوت کی دھومیں مچاؤں  تو کر ایسا جذبہ عطا یا الٰہی

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب!  صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د " مصطفٰے " د پینځوو حرفونو پۀ نسبت د مفتي اعظم رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه پینځه واقعې

### ﴿1﴾ بیان یې ودرولو او توبه یې پرې وکړه

وئیلے کیږي چې یو ځل پۀ یوه جلسه کښې د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه شهزاده حُضُور مفتي اعظم هند رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه پۀ سټېج باندې تشریف فرما وو- پۀ یو ښکلي اواز تقریر کوونکي د خُفیه پولیسو پۀ مخاطب کولو د خطاب پۀ جوش کښې ووئیل: " **که د حُکومت کِراماً کاتِبین موجود دي نو وه دې لیکي چې---**" پۀ دې اورېدو حُضُور مفتي اعظم رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فوراً هغه منع کړو او د توبې حُکم یې اوکړو- پۀ دې باندې هٰغه تقریر کوونکي فوراً بیان ودرولو

او ښکاره يـې توبه کړه- (کفريه کلمات کے بارے ميں سوال جواب، ص 300)
د اللّٰه رَبُّ العزّت دې پهٔ مفتي اعظم هند رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه باندې رَحمت وي او د هغوئي پهٔ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِيۡن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د حضور مفتي اعظم رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د ودرولو وجه دا وه چې تقرير کوونکي د حکومت "خفيه پوليس" ته مَعَاذَ الله! کراماً کاتبين (يعنې د اِنسانانو اعمال ليکونکو بزرګانو او د معصومو فرښتو) پهٔ شان وئيلي وو!

پيکرِ رُشد و ہِدايت مفتيِ اعظم کی ذات عامِلِ قرآن وسنّت مفتيِ اعظم کی ذات

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿2﴾ خبره به يـې منله

د حضرت مولانا حفيظُ الرحمان صاحب بيان دے چې: يو ځل زهٔ د خپل نزدې خپلوان سره د مفتي اعظم هند رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د ملاقات د پاره حاضر شوم، د ملاقات نه پس حضرت د مېلمستيا کولو د پاره بيا بيا ووئيل نو مونږ اِيسار شو- دغه وخت د شاه جهان پور نه يو خو عقيدت مند حاضر شول، د حضرت لاسونه يـې ښکل کړل او کېناستو او بيا فوراً لاړل- حضرت د هغه خلقو د اِيسارولو طرف ته خصوصي پام لرنه اوکړه خو هغوئي ايسار نهٔ شول او د

ستېيشن طرف ته روان شول- هغوئي ته ټرېن مېلاؤ نۀ شو، بيا د هغې نه پس د ستېېنډ طرف ته روان شول نو هلته هغوئي ته بس هم مېلاؤ نۀ شو- د ستېېنډ منېجر ووئيل چې شاه جهان پور ته اوس يو بس هم نۀ ځي، سحر به ځي- زړۀ يــې مات شو او د حضرت آستانۀ عاليه (يعنې د کور مبارک) طرف ته روان شول، حضرت د هغه خلقو د تللو نه پس مولانا حفيظُ الرحمان صاحب ته وفرمائيل چې دا ټول خلق به لږ ساعت پس واپس راځي، دوئي ته به نۀ ټرېن مېلاؤېږي او نۀ بس- لږ ساعت پس د ډېرې پرېشانئ نه پس ستړي ستومانه د حضرت آستانې ته راغلل، هغوئي ته چې يــې وکتل نو مولانا صاحب مُسکے شو، حضور مفتي اعظم هند رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه هم مُسکے شو او د ټولو خلقو سره کيناستو او ورتے يــې وخوړه- (جهانِ مفتيِ اعظم ، ص 912 تسهيلاً)

د الله رَبُّ العزّت دې پۀ مفتي اعظم هند رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه باندې رَحمت وي او د هغوئي پۀ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِيۡن بِجَاهِ خاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿3﴾ د خِدمت ګارې د تکليف خيال

شارح بُخاري حضرت علامه مولانا مفتي محمد شريف الحق امجدي رَحۡمَةُ اللهِعَلَيۡه د بيان خلاصه ده چې زۀ کله د مفتي اعظم هند حضرت علامه مولانا

مصطفٰے رضا خان رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه پۀ خِدمت کښې بريلي شريف ته حاضر شوم نو هغوئي د دارُ الافتا خِدمت ما ته حواله کړو- ما به پۀ ورځ کښې د مسئلو جوابونه ليکل او د ماسخوتن نه پس به مې هغوئي ته اورولو او چرته چې به مناسبه معلوميدله هغوئي به اِصلاح فرمائيله، يو مجلس به عام طور د دوه دريو ګينټو وو او کله نا کله به د څلورو ګينټو هم شو- پۀ دې ورځو کښې يو ځل کله چې سخته يخني وه، پۀ کمره کښې د حضرت د پاره اَنګيټهۍ وه کومه چې لږ ساعت پس يخه شوه- ناڅاپه هغوئي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه وفرمائيل: که کوئله نوره وے نو انګيټهۍ به هم ګرمه شوې وه- ما عرض اوکړو: دننه خدمت ګزارې ته اواز اوکړم او کوئله راوغواړم- وه يـې فرمائيل: ټوله ورځ به يـې کارونه کړي وي او اوده شوې به وي، پرېږده يـې- (جهانِ مفتیِ اعظم، ص328 ملتقطاً)

د الله رَبُّ العزّت دې پۀ مفتي اعظم هند رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه باندې رَحمت وي او د هغوئي پۀ وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِيۡن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿4﴾ مفتي اعظم هند رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه يـې اِصلاح اوکړه

حضرت علامه مولانا غلام آسي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: ما د خپل نوم په شروع کښې د برکت د پاره لفظ " محمد " شامل کړے وو- پۀ دې باندې د

اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِعَلَيْه شهزاده مفتي اعظم هند مولانا مصطفٰے رضا خان رَحْمَةُ اللهِعَلَيْه تنبيه وفرمائيله چې دلته اِسمِ رسالت (يعنې محمد) نۀ دے پکار- ما فوراً عرض اوکړو چې حُضُور بيا به د " محمد عبد الحي " څۀ حُکم وي؟ د دې پۀ جواب کښې حضرت وفرمائيل: کجاعبد الحیّ وکجا غلام آسی (يعنې چرته عبد الحي او چرته غلام آسي)؟ علامه فرمائي: " پۀ دې جواب اوريدو زۀ حيران پاتې شوم او د حضرت د تَفَقُّه فِي الدِّين (يعنې د دِيني معلوماتو) عظمت مې پۀ زړۀ کښې پوره کيناستو-"

مفتي اعظم هند رَحْمَةُاللهِعَلَيْه پۀ خپل اِرشاد دا راهنمائي اوکړه چې د چا د نوم پۀ شروع کښې لفظ " محمد " راوړے شي، که د هغه نوم اِطلاق پۀ لفظ " محمد " باندې صحيح وي نو هلته به لفظ " محمد " راوړل صحيح وي (لکه محمد صادق) او که د نوم اِطلاق پۀ لفظ " محمد " باندې صحيح نۀ وي نو هلته لفظ " محمد " پۀ شروع کښې راوړل به صحيح نۀ وي (لکه محمد غلام حسين)- حضور سَيِّدِ عالَم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عبدُ الحي دے ځکه محمد عبدُ الحي وئيل صحيح دي (حي د الله پاک نوم دے او د دې مطلب دے " ژوندے"- د عبد الحي مطلب دے د الله پاک بنده، يقيناً محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د الله پاک خاص بنده دے) خو غلام آسي نۀ دے، ځکه " محمد غلام آسي " وئيل مناسب نۀ دي- (جهانِ مفتی اعظم ، ص451)

د الله رَبُّ العزّت دې پهٔ مفتي اعظم هند رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه باندې رَحمت وي او د هغوئي پهٔ وسیله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِيۡن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

نامِ محمد کتنا میٹھا لگتا ہے دونوں جہاں سرکار کا مجھ کو صدقہ لگتا ہے

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## معلوماتي فتویٰ

سُوال: عبدُ القادِر، عبد القدير، عبد الرَّزَّاق وغیره نوم والا کسان پهٔ قادِر، قدیر او رزّاق نومونو سره رابلل څنګه دي؟

جواب: د اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه شهزاده مفتي اعظم هند مولانا محمد مصطفٰے رضا خان رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: د داسې نومونو نه لفظ "عبد" لرې کول ډېر بد دي او کله کله ناجائزه او ګناه هم وي او کله کفر ته هم نزدې کیږي- چا ته قادِر وئیل جائز دي- پهٔ داسې حالت کښې عبدُ القادر ته قادر وئیل بد دي- خو "قدیر" د الله پاک نه علاوه چا بل چا ته وئیل جائز نهٔ دي لکه څنګه چې پهٔ بَیضاوي کښې دي او که د چا نوم عبد القدوس، عبد الرحمان، عبد القیوم وي نو هغه ته قدوس، رحمان، قیوم وئیل داسې دي لکه څنګه چې د چا نوم عبدُ الله وي (هغه ته) "الله" وئیل سخته خبره ده- و العِیاذُ بِاللّٰهِ- د چا نوم چې عبدُ القادر وي هغه ته دې هم عبدُ القادر ووئیلے

شي، د چا چې نوم عبدُ القدير وي هغه ته هم عبدُ القدير وئيل ضروري دي- عبد القدوس ته عبد القدوس، عبد الرحمان ته عبد الرحمان، عبد القيوم ته عبد القيوم، عبد الله ته هم عبد الله وئيل فرض دي دلته د عبد حذف (يعنې بېلول) ډېره سخته د حرامو او ڪُفر درجه وي و العياذ بِاللّٰهِ- (فتاوٰی مصطفویه، ص89، 90 تسهيلاً)

## ﴿5﴾ د مبالغې نه د کار اخستو نه اِحتياط

د حضور مفتي اعظم هند مولانا مصطفٰے رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د خُلې مبارکې نه به همېشه تللےشوي خبره وتله، هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به چې کله هم د چا د وفات پهٔ باره کښې واورېدل نو فوراً به يې د بخښنې د دُعا د پاره لاسونه پورته کول- د مفتي اعظم هند رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پهٔ خِدمت کښې به د وفات شوو پهٔ باره کښې خطونه پيش کېدل- د هغوئي پهٔ لاس نيوه کښې د مبالغې نه د کار اخستو نه د بچ کېدو ښکلې واقعه واورئ: يو ځل يې د چا د لاس نيوې د خط پهٔ جواب کښې ليکل شروع کړل، د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه شهزاده مفتي اعظم هند رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مفتي مجيب الاسلام صاحب ته وفرمائيل چې جواب وليکئ، زهٔ دستخط کووم- نو مفتي صاحب جواب وليکو چې "ستاسو خط مېلاؤ شو د ځوي د وفات کېدو خبر چې مې ولوستو نو ډېر خفه شوم-" حضرت د جواب اورېدو نه پس فوراً وفرمائيل: "ډېر افسوس" خو نهٔ دے شوے، آؤ افسوس شوے- (جهانِ مفتی اعظم، ص319)

د الله رَبُّ العزّت دې پهٔ مفتي اعظم هند رَحْمَةُاللهِعَلَيْه باندې رَحمت وي او د هغوئي پهٔ وسیله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِيۡن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

**اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** دا وو د وليُّ الله او د رښتوني عاشقِ رسول پهٔ لیکلو او وئیلو کښې اِحتیاط! حضور مفتي اعظم هند رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د خپل والِد محترم اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پهٔ فیضان سره پهٔ لیکلو او وئیلو کښې د اِحتیاط تربیت حاصل کړے وو، حضور اعلیٰ حضرت، امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به هم ډیر پهٔ احتیاط سره الفاظ اِستعمالول- مونږ له هم پهٔ اِحتیاط سره د الفاظو وئیلو عادت جوړول پکار دي، مثلاً د چا د والِد صاحب پهٔ وفات باندې داسې قِسمه الفاظ وئیل چې زهٔ ستاسو د بابا جان د خبر پهٔ اورېدو سخت خفه شوم، ډیر غم راورسېدو، ما ته ډیر سخت افسوس دے، پهٔ دې ټولو جملو باندې هم غور کول پکار دي که د زړهٔ حالت داسې نهٔ وي او د دې باوجود چا پهٔ اِرادې سره داسې جملې ووئیلې نو هغه دروغ ووئیل او ګنهګار او د وور د عذاب حقدار شو-

هُوں گناہوں کے مَرَض سے نیم جاں    دردِ عصیاں کی دوا درکار ہے
خوب خدمت سنّتوں کی میں کروں    سیّدی تیری دعا درکار ہے
(وسائلِ بخشش، ص 589، 590)

## درې حجونه

سرکار مفتي اعظم هند رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ درې ځله د حج او د مدينے منورې د زيارت سعادت حاصل کړے- په اخري ځل د حاضرۍ په موقع باندې هغوئي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ په مکه مکرمه کښې د حرمينو د علمائے کرامو سره هم ملاقاتونه اوکړل کومو چې د اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د هغوئي په وخت کښې په حرمين طيبين کښې د ملاقات سعادت حاصل کړے وو- (جهانِ مفتيِ اعظم، ص994، 995 ملتقطاً) هغوئي په خپل يو کلام کښې ليکلي دي:

خدا خیر سے لائے وہ دن بھی نوری مدینے کی گلیاں بُہارا کروں میں

(سامانِ بخشش، ص153)

## د مفتي اعظم هند رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ نعتيه شاعري

د اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د شهزاده مفتي اعظم هند رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ په ميراث کښې د نعتيه شاعرۍ نه هم ډېره برخه نصيب شوه- هغوئي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د الله پاک ډېر حمدونه او د رسولِ مقبول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ډېر نعتونه او د دِين د بزرګانو رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِم مناقب ليکلي دي- د هغوئي په کلام کښې هيڅ شرعي او فني کمے نشته- پخپله په خپله يوه رُباعۍ کښې فرمائي:

گلہائے ثنا سے مہکتے ہوئے ہار سقمِ شرعی سے ہیں مُنَزَّہ اَشعار

دشمن کی نظر میں یہ نہ کھٹکیں کیونکر ہیں پھول مگر ہیں چشمِ اَعدا میں خار

(سامانِ بخشش، ص232)

د مفتي اعظم هند رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه د نعتونو ديوان په نوم د " سامانِ بخشش " د لوستلو، اورېدو او پوهېدو سره تعلق لري- مکتبة المدينه هم دا په ډېر ښکلي انداز کښې چاپ کړے دے- د دعوتِ اِسلامي د ويب سائټ نه دا ديوان فري ډاؤن لوډ کېدے او لوستلے کېدے شي-

## وصال شريف

حضور مفتي اعظم هند رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه به هميشه په جومات کښې نمونځ ادا کولو خو د وصال شريف نه يوه ورځ مخکښې د شروع په ورځ د ماسپښين او د مازيګر د نمونځ د پاره جومات ته وه نۀ رسېدو نو د خلقو زړونه په دې اِحساس په درزا شول چې د هغوئي طبيعت ډېر زيات خراب شوے- په اخرۍ شپه يې د ماسخوتن نمونځ هم په بستره باندې اوکړو- د دې نه پس يې په ټولو باندې دَم وکړو او په خاموشۍ يې سترګې پټې کړې او اودۀ شو د پاره د دې چې معمولات پوره کړي- د زيارت په ورځ د جُمعې په شپه چې کله نيمه شپه تېره شوه نو په سترګو غړولو يې ډېر په ضبط سره خلقو ته وکتل او بيا يې د وصيت په توګه وفرمائيل: " **د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په سُنَّت باندې په هر حالت کښې عمل کوئ ولې چې هم دا د نجات او کاميابۍ لاره ده** " بيا يې لږ ساعت پس وفرمائيل: " په هر سخت وخت کښې "حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ " لولئ- د دې دواړو وصيتونو نه پس يې د سورةُ المُلک شريف تِلاوت اوکړو او د هغې نه پس يې آيت الکرسي ولوستله او د کلمې په ورد

کولو کولو يــې وصال وفرمائيلو- اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَيۡهِ رٰاجِعُوۡنَ- (تاریخ مشائخ قادریہ رضویہ، ص 571)

په 14 مُحَرَّم شريف کال 1402 هجرى مطابق 12 نومبر کال 1981ء د وصال په وخت شل منټه کم دوه [01:40 am] بجې وې- د وصال په وخت په بستره باندې د محمد د شکل (په انداز سره) ملاست وو- (تاریخ مشائخ قادریہ رضویہ، ص 571، 572 ماخوذاً)

## غسل، جنازه او تدفين

د جُمعې په ورځ په 14 محرم شريف کال 1402 هجرى، په 13 نومبر کال 1981 سحر 8 بجې غُسل ورکړے شو- حضرت مولانا سيد مختار اشرف رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه (د کهچوچهه شريف سجاده نشين) د هغوئي جنازه په اِسلاميه انټر کالج بريلي شريف (هندوستان) کښې اوکړه، په کوم کښې چې لکونو مسلمانانو شرکت اوکړو او هغوئي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د خپل والِد محترم اِمام اهلسُنَّت اعلىٰ حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په خوا کښې دفن کړے شو- (مفتی اعظم ہند اور ان کے خلفاء، ص 102 ملتقطاً)

د الله رَبُّ العزّت دې په مفتي اعظم هند رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِيۡن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د مفتي اعظم هند رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د تخلص نُوري د خلورو حرفونو پۀ نسبت د اهلِسُنَّت د خلورو علمائے کرامو تاثرات

﴿1﴾ حضور حافظِ مِلَّت (حضرت علامه حافِظ عبد العزيز صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه) فرمائي: پۀ خپل ښار کښې د چا عزت او مقبوليت نۀ نصيب کيږي خو حضور مفتي اعظم هند رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته چې پۀ خپل ښار کښې کوم عزت او مقبوليت حاصل دے، د هغې مثال چرته نۀ ميلاوېږي- (مفتیِ اعظم ہند نمبر، ماہنامه استقامت، ص559)

﴿2﴾ حضور مجاهد مِلَّت حضرت علامه محمد حبيبُ الرحمان رضوي اُړيسوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: پۀ دې وخت کښې د هغوئي (يعني د حضور مفتي اعظم هند رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه) هستي فقيد المثال (يعني بے مثاله) ده- پۀ خصوصيت سره پۀ بابِ افتا کښې بلکې پۀ امروزه خبرو اترو کښې چې څومره محتاط او مناسب الفاظ او قيود اِرشاد فرمائي صرف د عِلم والا د هغوئي د منزل نه خبردونه اخلي- (مفتیِ اعظم ہند نمبر، ماہنامه استقامت، ص559)

﴿3﴾ د خپلې زمانې غزالي حضرت علامه سعيد احمد کاظمي شاه صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د سيدي مفتي اعظم هند رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه شان د دې حقيقت نه ظاهر دے چې د امامِ اهلِسُنَّت، مجددِ دِين او ملت مولانا شاه احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د زړۀ د ټوټې او د صحيح جانشين کېدو سره د "**الولد سرّ لابيه** (**يعني ځوي د پلار راز وي**)" صحيح مصداق دے- (تاريخِ مشائخ قادريه، ص551)

﴿4﴾ د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خليفه، سيدي قطبِ مدينه حضرت شاه

ضياءُ الدِّين احمد مدني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: مفتي اعظم هند، مفتي اعظم دے، اعلیٰ حضرت دے- هغه د صِدِّيقيت پۀ درجه باندې دے- (تاريخِ مشائخ قادريه، ص552)

﴿5﴾ د دعوتِ اِسلامي باني، مولانا محمد اِلياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه فرمائي: تاجدار اهلِسُنَّت ، د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه شهزاده، حضور مفتي اعظم هند مولانا مصطفٰے رضا خان نوري رضوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دارُ العلوم منظرِ اِسلام بَريلي شريف عظيم فاضِل، د علوم او فنون ماهِر، مفتي اِسلام جَيِّد عالِمِ دِين، د مختلفو كتابونو مصنف، د اِسلام شاعر او مشهور شيخِ طريقت وو- پۀ يو بل ځائے کښې فرمائي: حضور مفتي اعظم هند مولانا مصطفٰے رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د اعلیٰ حضرت اِمامِ احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه شهزاده او ولي اِبنِ ولي، عاشقِ رسول ابنِ عاشقِ رسول وو- (مدنى مذاكره، 12 محرم شريف 1440 ہجرى، 22 ستمبر 2018- مدنى مذاكره 20 رَمَضانُ المبارَک (بعد نمازِ عصر) 1441 هجرى ، 14 مئى 2020)


امیرِ اهلِسُنَّت د مفتي اعظم هند رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ شان کښې يو منقبت ليکلے دے کوم چې د هغوئي د نعتونو پۀ کتاب " وسائلِ بخشش " کښې کتلے کېدے شي، د هٔغه منقبت پۀ مقطع کښې يې پۀ عاجزئ کولو سره ليکلي دي:

کاش! نوری کے سگوں میں ہو شمار   یہ   تمنائے   دلِ   عطاؔر   ہے

(وسائلِ بخشش، ص590)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د راروانې هفتې رساله





فیضانِ مدینه محله سوداګران، زړه سبزي منډۍ کراچي.

+92 21 111 25 26 92 | 0313-1139278

www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net

feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net